آيا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ويې ويل: هو، ورته يې وويل: نو (د اذان بلنه ومنه (يعنې جومات ته راځه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو ړوند سړى راغى او ورته يې وويل: اې د الله رسوله، زه څوک نلرم چې لاس نيولى مې جومات ته راولي، نو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې غوښتنه وکړه چې په کور کې د لمانځه کولو اجازه ورکړي، نو اجازه يې ورکړه، کله چې روان شو غږ يې پسې وکړ، ورته يې وويل: " آيا د لمانځه لپاره اذان اورې؟" ويې ويل: هو، ورته يې وويل: (نو د اذان بلنه ومنه (يعنې جومات ته راځه.

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو ړوند سړى راغى ورته يې وويل: اې د الله رسوله، ما سره څوک نشته چې مرسته راسره وکړي او د پنځه وخته لمانځه لپاره مې لاس نيولى جومات ته راولي، غوښتل يې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه ورکړي تر څو جماعت پريږدي (او په کور کې لمونځ وکړي) نو اجازه يې ورکړه، کله چې روان شو ورغږ يې کړ او ورته يې وويل: آيا ته د لمانځه لپاره اذان اورې؟ هغه وويل: هو، نو ورته يې وويل: کله چې بلونکى (موذن) د لمانځه بلنه درکړي، نو بلنه يې ومنه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11287

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee